د تعليم الاسلام طلايي لړۍ

طلايي لړۍ

(د تعليم الاسلام اداري لخوا پر مهمو موضوع ګانو د لنډو رسالو لیکنې طلايي لړۍ)

د تکفیر لاملونه

لومړۍ رساله

(مسلمان کافر بلل څونه ناوړه کار او لاملونه يې څه دي ؟)

تالیف :

مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکې اداره :

تعليم الاسلام راډيو

د تعليم الاسلام راډيو ويب پاڼې له خوا پر لیکه کیږي:

www.taleemulislam-radio.com

تعلیم الاسلام راډیو

تعلیم الاسلام راډیو کندهار (مرکز) FM ۸۹.۷
تعلیم الاسلام راډیو جلال اباد (څانګه) FM ۹۰.۹
تعلیم الاسلام راډیو هلمند (څانګه) FM ۸۹.۵
تعلیم الاسلام راډیو ارزګان (څانګه) FM ۸۸.۲

تعلیمي ، اسلامي او اولسي راډیو

تلیفون شمېره : ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰ ایمېل : info@taleemulislam-radio.com

سکایپ : taleemulislamradio

ویب پاڼه : www.taleemulislam-radio.com

پته : غازي مېنه (۲) مه کوڅه د سټوډیم جنوب لویځ سیمه کندهار افغانستان

تعلیم الاسلام راډیو په افغانستان کي مشهوره، معتمده، خپلواکي، شخصي، ولسي اسلامي اداره ده.
مشهوري څانګي يې په لاندي ډول دي:

تعلیم الاسلام راډیو کندهار (مرکز) FM ۸۹.۷
تعلیم الاسلام راډیو جلال اباد (څانګه) FM ۹۰.۹
تعلیم الاسلام راډیو هلمند (څانګه) FM ۸۹.۵
تعلیم الاسلام راډیو ارزګان (څانګه) FM ۸۸.۲
تعلیم الاسلام دارالافتاء (د شرعي پوښتنو مرکز)
تعلیم الاسلام ویب پاڼه: www.taleemulislam-radio.com
تعلیم الاسلام مجله majalah@taleemulislam-radio.com
تعلیم الاسلام طلایي لړۍ (رساله)
تعلیم الاسلام مطبعه (د اسلامي کتابونو د نشر مرکز)
تعلیم الاسلام ابتدایي مدرسه

اریکي
ژوندۍ خپروني: +۹۳۷۰۷۰۰۵۷۵۷
معلومات: +۹۳۷۰۳۰۵۰۷۰۰ info@taleemulislam-radio.com
اعلانات: +۹۳۷۹۵۰۵۰۶۰۰ ads@taleemulislam-radio.com
سکایپ: taleemulislamradio
ټویټر: twitter.com/TaleemulislamFM

طلایي لړۍ

لومړۍ رساله

د تکفیر لاملونه

مسلمان کافر بلل څونه ناوړه کار او لاملونه یې څه دي ؟

مؤلف : مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکې اداره : تعلیم الاسلام راډیو

د تلیفون شمېره : ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

ایمیل : info@taleemulislam-radio.com

سکایپ : taleemulislamradio

ویب پاڼه : www.taleemulislam-radio.com

پته : غازي مېنه (۲) مه کوڅه د ستېډیم جنوب لوېدیځ سیمه کندهار افغانستان

حسان پرنټنګ پریس 0092-21-36676425

فهرست

شماره	سرلیک	مخ
۱	سریزه	۱
۲	تکفیر	۳
۳	د تکفیر لاملونه	۴
۴	د تکفیر لومړی لامل	۵
۵	غلط فهم	۵
٦	د تکفیر دوهم لامل	۱۰
۷	د ویونکي وینا د هغه د مراد خلاف تفسیر ول	۱۰
۸	د تکفیر درېیم لامل	۱۵
۹	د خبر تحقیق نه کول	۱۵
۱۰	د تکفیر څلورم لامل	۲۰
۱۱	د یو کس له کبله د هغه ټلواله محکومول	۲۰
۱۲	د تکفیر پنځم لامل	۲۳
۱۳	عناد او دښمني	۲۳
۱۴	د مخکنې بحث لنډیز	۲۴
۱۵	د تکفیر خطرناکه پایله	۲۷
۱٦	د مخکنې بحث نو پایله	۲۹

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلوة و السلام علي من بعثه الله رحمة للعالمين و علي آله و صحبه و من تبعه باحسان الي يوم الدين اما بعد:

درنو او معززو لوستونکو ! د تعليم الاسلام اداري لخوا پريو لړ مهمو موضوع ګانو د لنډو رسالو ليکلو په طلايي لړۍ د رحمن او رحيم الله په توفيق پيل کوو ، د طلايي لړۍ په دې لومړنۍ رساله کي د تکفير يعني پر مسلمان په ناحقه د کافر حکم کولو حرام والی او هم يې بدي پايلي او څو لاملونه ستاسو درانه حضور ته وړاندي کوو پدې هيله چي ستاسو د پام وړ وګرځي.

نن ورځ ټوله اسلامي نړۍ تر هر شي زيات دې ته اړتيا لري چي خپل منځ کي يو موټي او متحد سي ، يو پر بل اعتماد او باور ولري ، د تعامل او تعايش د ظرفيت کچه يې دونه لوړه کړل سي چي په کلي او وطن کي يو د بل سره اوسېدل تحمل کړای سي ، يو و بل ته احترام او درناوی ولري څو خپل منځ کي د وړونو په شان واوسي لکه څه ډول چي رسول الله ﷺ د همداسي ژوند کولو حکم کړی دی : ((وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا)) (بخاري)

ژباړه: اواې د الله بنده ګانو ! د وړونو په شان واوسئ.

د دې د پاره چي مسلمانان خپل منځ کي د وړونو په شان د محبت او ورورولۍ په فضاء کي ګډ ژوند وکړي نو تر هر څه مخکي لازمه ده چي د هغو ويناوو او کارونو مخه ونيول سي چي هغه د مسلمانانو اخوت او ورور ولي په عداوت او

دښمني بدلوي ، خپل منځي اعتماد او حسن ظن يې په بې اعتمادي او بد ګماني بدلوي ، د ځان او همفکرانو څخه ماسيوا په کلي او وطن کي د نورو د زغملو ظرفيتونه له منځه وړي او ځيني ويناوي او بيانونه خو کله داسي بده اغيزه هم ښندي چې په ورو ورو د اوږدونکو د تعامل او تعايش ظرفيت تر داسي کچې را ټيټوي چې کلی او وطن خو پرېږده په اسلام کي لا هم د خپل طبيعت او فکر خلاف کس منلای نسي .

د مسلمانانو تر منځ بد ګماني ، بې اعتمادی او دښمنی هغه ناخوالي دي چې نن ورځ يې په زياتو سيمو کي مسلمانان په اور سوزل کيږي دا مصيبتونه که څه هم زيات د کفري نړۍ او د اسلام د دښمنانو د شيطاني ډول ډول دسيسو له کبله رامنځ ته کيږي خو ډېر ځله د مسلمانانو د اشتباه ګانو ، غلطو تدبيرونو او تنګو نظرونو څخه هم را منځ ته کيږي چې له کبله يې د ورورولۍ فضاء د دښمنۍ په لوګي داسي تياره او ککړه کيږي چې بيا ورور لا ورور ته هم د دښمن په سترګه ګوري د دا ډول اشتباه ګانو او تېروتنو څخه يوه لويه اشتباه د تکفير مسئله ده چې د طلايي لړۍ دا لومړنۍ رساله ورته ځانګړې سوې ده .

تکفير

پر مسلمان د کافر حکم کولو ته تکفير وايي ، نن ورځ يو شمېر کسان په يوه اوبل مذهبي او فکري ډلو کي ليدل کيږي چې د هغوی د کړنې څخه داسې څرګنديږي چې د اسلام دين ګواکي يوازې په دوی پورې اړه لري او يوازې همدوی دي چې اسلام يې په صحيح معنا فهمولی دی او هم يې نورو ته تشريح کولای سي ، اسلام يې داسې ګرځولی وي لکه يو سياسي تنظيم چې وي ، دی يې مشر او بنياد ايښونکی وي ، قانون او دستور يې د دوی لخوا وضع او تشريح کيږي بس دا د دوی اختيار دی که يو کس ته په اسلام کې غړيتوب ورکوي او که يې غړيتوب ځني اخلي .

د اسلام په مقدس دين کې يو شمېر هغه عقايد او مسايل دي چې هغه واضح او ثابت دي ، نه تاويل او احتمال قبلوي او نه يې په اثبات او قطعيت کې د کوم شک او تردد ځای سته ، دا ډول عقايد او مسايل د دين اساس او بنياد بلل کيږي او دا هغه څه دي چې مسلمان د کافر څخه را بېلوي ، په دا ډول عقايدو او احکامو کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم د زمانې څخه نيولې بيا تر دې دمه د مسلمان امت د ټولو مذهبونو او طايفو تر منځ نه اختلاف سته او نه اختلاف کوي او نه د چا اختلاف پکښې زغمېدلای سي آن تر دې چې د مخکښيو انبياؤ د امتونو او د دې امت تر منځ هم اختلاف پکښې نسته لکه د الله وحدانيت او يو والی ، د رسولانو رسالت د قيامت ورځ ، لمونځ ، زکات روژه او داسې نور ، خو په اسلام کې زيات شمېر داسې مسايل هم سته

چې په هغو کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم په زمانه کې اختلاف وو او د هغوی څخه وروسته هم بیا تر دې دمه اختلاف پکښې ستة ، دغه ډول په مختلفو دورونو کې یو شمېر مسایل را منځ ته سوي دي چې په هغو کې د علماؤ تر منځ د مختلفو دلایلو او وجوهاتو له کبله اختلاف رانقل سوی دی ، او داسي اختلافي مسایل به نوري هم رامنځ ته کیږي ، دغه ډول اختلافي مسایلو ته فروعي مسایل وایي په فروعي مسایلو کې د دلیل پر بنسټ یو د بل څخه اختلاف لرل نه کفر دی او نه باید پر داسي کسانو د کفر حکم وسي .

د تکفیر په مسئله کې مخکښیو علماؤ دونه احتیاط کاوه چې یو شمېر داسي ډلې یې لا هم د کافرانو په نامه نه دي نومولي چې هغوی په ډېرو څرګندو مسایلو کې د مسلمان امت څخه مخالف دریځ اختیاره کړی دی بلکې هغوی یې په یو خاص نامه یاد کړي دي چې بنکاره بېلګه یې خوارج دي .

د تکفیر لاملونه

دا چې یو شمېر کسان پر ځینو نورو مسلمانانو په ناحقه د کفر حکم کوي دا بېلابېل سببونه لري د دغو لاملونو څخه زما په آند یو شمېر دا دي : (۱) غلط فهم یعني د قران او حدیثو د مراد څخه خلاف شی فهمول .

(۲) د ویونکي وینا د هغه د مراد څخه خلاف تفسیر ول .

(۳) د خبر سپیناوی او تحقیق نه کول .

(۴) د یو کس له کبله د هغه ټولې ډلې محکومول .

(۵) عناد او دښمني .

دا پنځه واړه لاملونه به يو په بل پسي په لنډ ډول درته تشريح کړو

د تکفير لومړی لامل

غلط فهم

د اهل السنة والجماعة پر دې اتفاق دی چې مسلمان بنده چې هر ډول لويه ګناه وکړي او هغه ګناه ګناه بولي، پدې سره نه کافر کيږي که په دنيا کې توبه وکاږي توبه يې قبليږي او که بې توبې مړ سي په الله جل جلاله پورې اړه لري چې ګناه يې ورته بخښي د شروع څخه يې جنت داخلوي او که ترسزا وروسته يې جنت ته دننه کوي.

خو خوارج چې مخکې مو اشاره ورته وکړه پدې عقيده دي چې مسلمان په ګناه کافر کيږي دوی د يو شمېر هغو آيتونو او حديثونو ظاهري معنا ته ګوري چې په هغو کې ګناه کفر بلل سوې ده لکه دا حديث چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ (متفق عليه)

ژباړه: مسلمان ته بنکنځل کول فسق او جګړه ورسره کول کفر دی.

خو دوی هغو آيتونو او حديثونو ته نه ګوري چې هلته الله جل جلاله او د الله رسول ﷺ د لوی ګناه مرتکب مؤمن بللی دی لکه څنګه چې الله فرمايي:

((وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ...)) (۹ الحجرات)

ژباړه: او که د مؤمنانو دوې ډلې خپل منځ کې جنګيږي نو تاسو يې ترمنځ صلح راولئ.

ابو ذر رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قُلْتُ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِي ذَرّ (متفق علیه)

ژباړه : داسي بنده نسته چي (لا إله إلا الله) ووايي او بيا پر دغه عقيده مړ سي چي هغه دي جنت ته داخل نسي ، ابوذر رضي الله عنه وايي ما وويل که څه هم يې زنا او غلا کړې وي ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم و فرمايل : که څه هم يې زنا او غلا کړې وي . ما وويل : که څه هم يې زنا او غلا کړې وي ؟ هغه وويل : که څه هم يې زنا او غلا کړې وي . ما وويل : که څه هم يې زنا او غلا کړې وي ؟ هغه وويل : که څه هم يې زنا او غلا کړې وي سره د دې چي د ابوذر پزه په خاورو سپېره وي يعني په خوښ نه وي .

دې ته ورته نور ډېر آيتونه او حديثونه سته چي دا ثابتوي چي مسلمان په ګناه نه کافر کيږي البته کوم ګناهونه چي کفر بلل سوي دي د هغو مراد حقيقي کفر ندی بلکي د حقيقي کفر پرته بله داسي معنا يې مراد ده چي هم د عربي په استعمال کي او هم د فصاحت او بلاغت په رڼا کي صحيح وي څو د هغو آيتونو او حديثونو سره يې تکرر انسي چي په ځر ګند ډول دا ثابتوي چي مؤمن په ګناه نه کافر کيږي .

د دغو معنا ګانو څخه يې يوه معنا او توجيه دا ده چي د حقيقي کفر او ښکاره کفري عمل څخه ماسيوا بله هره ګناه چي کول يې په قرآن او حديثو کي کفر

بلل سوی وي هغه د دې کبله چې دا ډول کار د کافرانو عمل ته ورته کار دی د مومن د شان سره نه ښایي څو مؤمنان ځانونه ځني وژغوري.

خوارج چې مسلمانان په ګناه کافران ګڼي د دې اساسي لامل د هغوی غلط فهم دی ځکه دوی د یو شمېر قرآني آیتونو او نبوي احادیثو څخه داسي مراد اخلي چې هغه د نورو آیتونو او احادیثو سره ښکاره ټکر لري.

امام بخاري رحمه الله علیه په بَاب قَتْلِ الْخَوَارِجِ وَالْمُلْحِدِينَ کي وایي:

كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَرَاهُمْ شِرَارَ خَلْقِ اللَّهِ وَقَالَ إِنَّهُمْ انْطَلَقُوا إِلَى آيَاتٍ نَزَلَتْ فِي الْكُفَّارِ فَجَعَلُوهَا عَلَى الْمُؤْمِنِينَ (بخاري)

ژباړه: ابن عمر رضي الله عنهما خوارج د الله د شریرو خلکو څخه ګڼل او وایي، چې خوارجو د کافرانو په شان کي نازل سوي آیتونه پر مومنانو تپلي دي.

مخکي مو وویل: څوک چې پر مسلمان د کافر حکم کوي، د هغه یو لامل د قرآن او حدیثو د مراد غلط فهمول دي، ابن عمر رضي الله عنه د خوارجو د تکفیر وجه د هغوی غلط فهمي بیان کړې ده، ځکه د هغه د وینا مقصد دا دی: چې خوارج چې د ګناه له کبله مسلمان د اسلام د دین څخه باسي او کافر یې ګڼي هغوی یو شمېر هغه آیتونه د خپل باطل مذهب د پاره دلیل بولي، چې هغه اصلاً د کافرانو په حق کي نازل سوي دي.

د مثال په ډول که مسلمان قاضي يا امير د دوو نفرو ترمنځ د ظلم فيصله وکړي يعني شرعي شواهد او دلايل د يوه حق ثابتوي خو قاضي قصدا د رشوت يا شخصي تعلقاتو له کبله د هغه بل په ګټه فيصله وکړي د قاضي دغه ډول ناحقه فيصله که څه هم لوی ظلم او ګناه ده خو د همدغي ګناه له کبله اهل السنة والجماعة پر دغه قاضي د کافر حکم نه کوي او نه يې په دغه ګناه د اسلام څخه باسي ځکه مسلمان د ګناه په کولو نه کافر کيږي .

خو د خوارجو د عقيدې له مخي په دغه ډول ناحقه او د ظلم په فيصله قاضي کافر کيږي ځکه دوی هغه آيت چې د کافرانو په شان کي نازل سوی دی پر مسلمان قاضي هم تطبيقوي او وايي چې الله په قرآن پاک کي فرمايلي دي : وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ.(۴۴ المائدة)

ژباړه : او څوک چې د الله د لوري په نازل سوي کتاب فيصله ونه کړي نو هماغه کسان کافران دي .

د پورتني آيت مصداق کافران دي او د هغوی عادت پکښي بيان سوی دی لهذا کوم کسان چې دا آيت پر مسلمانانو تطبيق کوي او د ظالمانه پرېکړي له کبله مسلمان کافر ګڼي لامل يې غلط فهمي ده .

حضرت علي او معاوية رضي الله عنهما د خپل منځي اختلاف د له منځه وړلو د پاره پرېکړه وکړه چې هر يو به د خپل لوري حَکَم (پرېکړه کونکی) ټاکي څو شخړي ته د پای ټکی کښېږدي ، حضرت علي رضي الله عنه د خپل لوري

څخه ابو موسي رضي الله عنه او معاوية رضي الله عنه بيا د خپل لوري څخه عمرو بن العاص رضي الله عنه حَکَم وټاکل.

خوارجو د حَکَم ټاکل د همدې آيت خلاف کار وبالله: إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ.

ژباړه: بيله الله څخه بل هيڅوک هم پرېکړه کولای نسي.

تر داسي اندازې چې د حَکَم ټاکل يې کفر وبالله ځکه نو د حضرت علي رضي الله عنه په مقابله کې يې بغاوت وکړ.

په البداية والنهاية کې وايي چې ابن جرير رحمه الله عليه وايي حضرت علي رضي الله عنه يو ورځ خطبه ويل يو کس د خوارجو څخه ور ولاړ سو ورته وې ويل:

يا علي أشركت في دين الله الرجال ولا حكم إلا لله ، فتنادوا من كل جانب لا حكم إلا لله، لا حكم إلا لله، فجعل علي يقول: هذه كلمة حق يراد بها باطل (البداية والنهاية)

ژباړه: اې علي! تا د الله په دين کې خلک شريکان کړل او پرېکړه بيله الله څخه بل څوک نسي کولای، د هرې ډلې څخه خوارجو ډغونه پورته کړل او دا يې ويل: لا حكم إلا لله، حضرت علي رضي الله عنه به ويل: دا ربنتيني وينا ده خو دوی باطل مراد ځني اخلي.

ځکه د دې آيت: ((إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ)) مراد دا نه دی چې د خلکو د خپل منځي شخړو د حل د پاره د پرېکړې کونکي ټاکل منع دی ځکه د ښځي او ميړه تر منځ چې اختلاف راسي نو د اختلاف د حل د پاره په سورة النساء کې الله جل جلاله فرمايلي دي چې د هر لوړي څخه حَکَم ور وليږئ:

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا ...(٣٥ النساء)

ژباړه : او که تاسو د ښځي او میړه تر منځ د درز او اختلاف ویره ولرئ نو یو حَکَم (پریکړه کونکی) د میړه د کورنۍ او بل حَکَم د ښځي د کورنۍ څخه ور ولیږئ .

د حضرت علي رضي الله عنه او معاویة رضی الله عنه لخوا چې ابو موسي او عمرو بن العاص رضی الله عنهما حَکَم وټاکل سول دا د قران خلاف کار نه وو خو خوارجو د غلط فهم له کبله دا عمل د قران خلاف بلکي بیخي یې کفر وبالله .

د پورتنیو دوو مثالونو څخه ښه واضح سول چې د تکفیر یو لامل د قرآن او حدیثو څخه د الله او د الله د رسول د مراد خلاف شئ فهمول دي او یا یې بې ځایه تطبیقول دي .

د تکفیر دوهم لامل

د ویونکي وینا د هغه د مراد خلاف تفسیرول .

په عربي او بله هره ژبه کي بې شمیره داسي کلمې او جملې ستې چې ویونکي یې د بېلابیلو مقصدونو د پاره کاروي ، ویونکی چې کوم لفظونه پر ژبه بیانوي کله یې د هغه څخه د هغه حقیقي معنا مراد وي او کله یې مجازي معنا مراد وي ، کله خپل مراد په صریحو الفاظو بیانوي کله یې په کنایي الفاظو بیانوي ، کله د ویونکي مراد هغه څه وي چې د وینا څخه یې په څرګند ډول ښکاري او هر څوک په پوهیږي او کله یې بیا مراد ډېر پټ او باریک وي د هر چا ذهن نه په رسیږي .

ځکه نو د وینا هغه مراد ته اعتبار ورکول کیږي چې د ویونکي مراد وي په دې شرط چې مراد یې داسي څه وي چې د دا ډول عبارت څخه هم د ژبې په استعمال کي او هم په شریعت کي منل کېدلای سي .

کله يو څوک په قلم يا ژبه داسي څه بيانوي چې اوربدونکي هيښ پيښ کړي داسي بد څه ځني وفهموي که ويونکي هم خپله وينا د همدغه مراد له کبله کړې وي نو بيا يې په کفر کي هيڅ شک نه پيدا کيږي خو همدغه وينا د داسي مقصد د پاره هم کېدلای سي چې هغه جايز وي ځکه نو د مسلمان خبره چې څوک واوري او دی داسي څه ځني وفهموي چې ويونکی يې د اسلام څخه په خارجيږي بايد سمدستي پر هغه د کافر حکم ونکړي ځکه کېدلای سي چې د ويونکي هغه څه ځني مراد نه وي کوم چې اوربدونکی يې ځني فهموي بلکي د ويونکي دي روا معنا مراد وي.

زمونږ د حنفي مذهب په کتابونو کي دا وينا مشهوره ده چې د مسلمان وينا که څه هم د يو ضعيف روايت له مخي د اسلام مطابق توجيه کېدلای سي پر هغه بايد د کفر حکم ونه سي ځکه مسلمان بايد پر مسلمان ښه ګمان ولري.

د هدايې په شرح فتح القدير کي وايي:

وَلَا شَكَّ أَنَّهُ يَجِبُ أَنْ يُحْتَاطَ فِي عَدَمِ تَكْفِيرِ الْمُسْلِمِ حَتَّى قَالُوا : إِذَا كَانَ فِي الْمَسْأَلَةِ وُجُوهٌ كَثِيرَةٌ تُوجِبُ التَّكْفِيرَ وَوَجْهٌ وَاحِدٌ يَمْنَعُهُ عَلَى الْمُفْتِي أَنْ يَمِيلَ إِلَيْهِ وَيَبْنِي عَلَيْهِ. (فتح القدير)

ژباړه: پدې کي شک نسته چې د مسلمان په کافر ګڼلو کي بايد احتياط وسي که يوه مسئله د ډيرو وجوهاتو لکبله تکفير لازموي خو يوه وجه يې د تکفير مخه نيسي نو پر مفتي لازمه ده د نه کافر کېدلو توجيه يې غوره کړي او پر هغه فتوا بناء کړي.

د دې د پاره چې موضوع لمر غوندي را ته ښکاره سي د يوه صحابي وينا را نقلوو، چې د ده څه مراد وو او اوربدونکي يې د وينا څخه څه فهمول، د

ويونکي مراد جايز وو خو د اورېدونکي د فهم له مخي دا سړی پدې وينا د اسلام څخه وتی نو ځکه رسول الله صلي الله عليه وسلم د ويونکي مراد معتبر وبالله او هغه ته يې د خپلي هيلي مطابق د ثواب زيری لا هم ورکړ.

عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَجُلٌ مِنْ الْأَنْصَارِ بَيْتُهُ أَقْصَى بَيْتٍ فِي الْمَدِينَةِ فَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ الصَّلَاةُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَتَوَجَّعْنَا لَهُ فَقُلْتُ لَهُ يَا فُلَانُ لَوْ أَنَّكَ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا يَقِيكَ مِنْ الرَّمْضَاءِ وَيَقِيكَ مِنْ هَوَامِّ الْأَرْضِ قَالَ أَمَ وَاللَّهِ مَا أُحِبُّ أَنَّ بَيْتِي مُطَنَّبٌ بِبَيْتِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَحَمَلْتُ بِهِ حِمْلًا حَتَّى أَتَيْتُ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ فَدَعَاهُ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ وَذَكَرَ لَهُ أَنَّهُ يَرْجُو فِي أَثَرِهِ الْأَجْرَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَكَ مَا احْتَسَبْتَ (مسلم)

ژباړه: ابی بن کعب رضي الله عنه وايي: د انصارو څخه د يوه کس کور د مدينې منوري بيخي په پای کي وو خو بيا هم يو لمونځ لا هم د رسول الله ﷺ سره په مسجد نبوي کي نه ځني تېرېده، ابی بن کعب رضي الله عنه وايي: زموږ زړه پر وسوزی د خواخوږۍ له کبله مي ورته وويل: اې فلانيه! کاشکي دي خر رانيولی وای د غرمې په مهال به يې پر کرمه مځکه د تک کولو څخه او د شپې په مهال به يې د خزندو څخه ژغورلی وای.

ده را ته وويل: اګاه سه! والله زما خوښه نه ده، چې زما د کور د خيمې رسی د محمد ﷺ د خيمې سره تړلې وي.

ابی بن کعب وايي: دا خبره پر ما ډېره درنه سوه ترڅو د الله پيغمبر ﷺ ته ورغلم هغه مي په خبر کړ، رسول الله ﷺ دا سړی را وغوښتی، دې سړي رسول الله ﷺ ته هم هغسي وويل لکه ما ته چې يې ويلي وه خو دا يې هم

وويل : چې د کور ليري واله يې ځکه خوښ دي، چې د اوږده واټن څخه پر راتګ د ثواب اميد لري ، رسول الله ﷺ ورته وويل : د کوم ثواب په نيت چې د ليري ځای څخه راځې هغه ثواب الله جل جلاله تا ته درکوي .

د انصاري وينا که څوک واوري چې وايي :

أَمَ وَاللّٰهِ مَا أُحِبُّ أَنَّ بَيْتِي مُطَنَّبٌ بِبَيْتِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

ژباړه : اګاه سه ! والله زما دا خوښه نه ده ، چې زما د کور د خيمې رسۍ د محمد ﷺ د خيمې سره تړلې وي .

نو سمدستي به دا ځني وفهموي چې دا کس د الله د رسول ﷺ څخه دونه کرکه لري چې د هغه ګاونډيتوب يې لا هم خوښ نه دی او ښکاره خبره ده هر څوک چې د محمد ﷺ سره په زړه کي کرکه لري هغه کافر دی همدا وجه ده چې ابی بن کعب رضي الله عنه وايي : د ده خبره پر ما ډېره درنه سوله .

دلته دا تکی ډېر د پام وړ دی چې ابی بن کعب رضي الله عنه پر دا کس د هغه څه له مخي چې ده يې د وينا څخه وفهمول د کفر حکم نه دی کړی بلکي موضوع يې د الله د رسول سره شريکه کړه چې دا کس د عمل له مخي خو مخلص مؤمن ښکاري ځکه نو د دونه ليري ځای څخه د جماعت هر لمانځه ته مسجد نبوي ته حاضريږي خو د وينا څخه يې داسي ښکاري چې دا کس د الله د رسول څخه کرکه لري .

دا چې په وينا کي د ويونکي مراد ته اعتبار ورکول کيږي ځکه نو رسول الله ﷺ انصاري وپوښتی چې د دې وينا څخه دي څه مراد دی ؟ څو د ويونکي

مراد معلوم کړي چي ايا د نفرت او کرکي له کبله يې د محمد ﷺ
ګاونډيتوب خوښ نه دی او که کوم بل څه يې مراد دي ؟
انصاري چي څه مهال د خپلي وينا مراد او مقصد ورته بيان کړ ، د الله
رسول ﷺ زيری ورکړ چي په کومه هيله چي د مسجد نبوي څخه ليري
اوسېدل خوښ لري هماغه هيلي به الله جل جلاله درپوره کړي او پر هر قدم به
ثوابونه درکړي .
د دې دلايلو څخه ثابته سوه چي څوک بايد د ويونکي وينا د هغه د مراد
خلاف تفسير نه کړي څه چي ويونکي مراد ځني اخلي هماغه مراد ته يې
اعتبار ورکول کيږي ، د دې هڅه او کوښښ بايد ونسي چي د يو مسلمان د
وينا څخه داسي څه مراد سي چي په هغه کافر وبلل سي .
زمونږ د علماؤ درېځ هم دا دی چي د مسلمان وينا د امکان تر بريده داسي
توجيه او تفسير سي چي د اسلام څخه په خارج نسي .
خو کله داسي هم پيښيږي چي څوک يو څه بيانوي په غلطي کي بل څه پر
ژبه ځني وويل سي پدې سره هم څوک نه کافر کيږي ، د بخاري او مسلم هغه
حديث ډېر مشهور دی چي وايي : الله جل جلاله د بنده په توبه تر هغه چا
زيات خوشاليږي چي خوراک چښاک او بل هر څه يې پر اوښ بار وي او په
ناپايه وچ دښت کي يې اوښ ځني وتيښتي او د بيا مندلو څخه يې يو مخ نا
اميد سي او تر وني لاندي د نااميدۍ پر تغړ تر هغه مهاله چي مرګی يې روح
اخلي سترګي پټي کړي همدا د پريشانۍ په حالت کي ناڅاپه سترګي

خلاصي کړي هغه اوښ چې هر څه يې پر بار وه او تر منزله يې ځان پر رساوه سر ته ولاړ وي او دا سړی غواړي چې ووايي : يا الله ! ته زما رب يې او زه دي بنده يم خو د ډيري خوشالی څخه غلط سي داسي ووايي :

اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِي وَأَنَا رَبُّكَ أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ (مسلم).

ژباړه : يا الله ! ته زما بنده يې او زه دي رب يم ، د زياتي خوشالی څخه خطا وځي .

دا وو د تکفیر دوهم لامل چې ځيني کسان د يو چا د خطا يا د هغه د وينا څخه د هغه د مراد خلاف داسي معنا مراد اخلي چې له کبله يې کافر بلل کېدلای سي څو پر هغه د تکفیر يعني د کفر د تاپې لګولو لاره ځان ته هواره کړي .

د تکفیر دريم لامل

د خبر تحقیق نه کول

د تکفیر بل لامل دا دی چې کله د يو کس يا ډلې په هکله داسي خبر خپور سي چې هغه کفري عقيده يا کفري عمل وي که واقعيت ولري نو د همدې عقيدې او عمل څښتن د اسلام څخه په وځي خو هغه به درواغ يا د معاند لخوا پر لګول سوی بې بنسټه تور او تهمت وي ، هيڅ حقيقت به نلري نو ځيني کسان د خبر د تحقیق څخه مخکې د همدې شايعې او تهمت په اساس پر هغه د کفر حکم کوي او د تل د پاره يې د جنت دروازه پر مخ تړي .

يو کس بايد داسي فکر و نکړي چې د يو کس او ډلې په هکله چې هر څه يې غوږو ته رسيږي هغه دي ټول رښتيا وي بلکې د درواغجنانو درواغ ، د

معاندينو افتراوي د اسلام د دښمنانو پروپاګنډې هم غوږونو ته رسيږي او هر اورېدلی خبر رښتيا کېدلای نسي ځکه نو د الله رسول ﷺ فرمايلي دي :

((كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ)) . (مسلم)

ژباړه : د سړي د درواغ ويلو د پاره همدونه کفايت کوي چې هره اورېدلې خبره بيانوي .

دا چې يو کس پر بل مسلمان او يا پريوې مسلماني ډلې د کفر حکم کوي د تکفير لامل يې ډېر ځله دا هم وي چې د هغوی د يو داسي وينا ، عقيدې يا عمل خبر يې غوږو ته ورسيږي چې هغسي وينا او عمل کول يا هغسي عقيده درلودل په ښکاره ډول کفر وي نو دی هم بېله دې څخه چې د خبر تحقيق وکړي پر هغه د کافر حکم کوي آن تر دې چې کله يې مقابلې ته داسي ليڅي را نغاړي لکه فرعون او ابوجهل چې د لښکرو سره پر اسلام يرغل کړی وي او دی يې مقابلې ته ورډانګي.

په داسي حال کي که د خبر تحقيق او پلټنه وسي نو دا هر څه به درواغ او د معاندينو تورونه ثابت سي ، هغه کس به د ښې عقيدې او د ښه عمل څښتن وي نو پکار ده چې د خبر د تحقيق او پلټنې مخکې پر هيڅ مسلمان د کفر حکم ونه سي ، اول د خبر تحقيق وسي ، رښتيا او درواغ معلوم کړل سي بلکې د ايمان دا غوښتنه ده چې د مسلمان ورور يا مسلماني ډلې په هکله ناوړه خبر واوري نو داسي ووايي :

((مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ)) مورږ ته خو نه ښايي چې پدغه ډول خبرو ورږغيږو ، يا الله ستا ذات سپېڅلی دی ، دا غټ تور دی چې پر دې مسلمان لګېدلی دی .

د مسلمان د پاره د ژوندانه په ټولو چارو کي که دیني وي که دنیاوي وي د خبر تحقیق او سپیناوی ډېر مهم دی ، په ځانګړي ډول د تکفیر په مسئله کي یې اهمیت زښت زیات دی ، ځکه دا کوچنی خبره نه ده ، چې څوک داسي کس چې هغه د توحید کلمه وایي ، پر اسلامي معتقداتو باور او یقین لري د داسي خبر پر بنسټ د اسلام څخه خارج کوي او کافر یې ګڼي چې نه یې راپورچې معلوم وي او نه یې د راوي دیانت او عدالت معلوم وي .

الله جل جلاله موږ پدې امر کړي یوو چې د فاسق د خبر سپیناوی وکړو ځکه الله فرمایلي دي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (٦ الحجرات)

ژباړه : اې مؤمنانو ! که تاسو ته فاسق خبر راوړي نو د هغه سپیناوی کوئ داسي نسي چې د فاسق د خبر پر بنسټ په ناخبرتیا خلکو ته زیان ورسوی او بیا د حقیقت ترڅرګند بدلو وروسته پر خپلو کړونو پښېمانه وګرځی .

د خبر د تحقیق یعني د رښتیا او درواغو د معلومولو د پاره تر ټولو مهم او لومړنی ګام دا دی چې د راپورچې حالت ځان ته معلوم کړل سي پدې ډول :

آیا خبر راوړونکی رښتنی ، عادل او د تقوا څښتن دی ؟

که خبر راوړونکی درواغجن وي نو خبر یې د الله په حکم نه منل کیږي .

که خبر راوړونکی فاسق وي نو خبر یې د الله په حکم د منلو وړ نه دی .

آیا خبر راوړونکی خو به د هماغه کس په حق کي د انصاف او عدالت تر دائرې تیری نه کوي ؟

که د خبر راوړنکي دښمني د هغه کس سره داسي کچي ته رسېدلې وي چې د هغه په حق کې يې انصاف او عدالت نه مراعات کاوه نو بيا يې هم د اتهام له کبله خبر نه منل کيږي .

که خبر راوړونکی رښتنی ، د تقوا څښتن او د هماغه کس په حق کې بې انصاف نه وو نو بيا دا پوښتنه مطرح کيږي .

آيا ده دا خبر خپله د هماغه کس څخه اوربدلی دی ؟

آيا ده دا خبر خپله د هماغه کس په کتاب کې لوستی دی ؟

ايا ده خپله هماغه کس په ستر ګو ليدلی دی چې هغه کار يې کاوه کوم چې ده يې خبر راوړی دی ؟

که خبر راوړنکي د هغه کس حالت په خپلو سترګو ليدلی يا اوربدلی يا د هغه د کتاب څخه لوستی وي نو بيا د خبر راوړنکي د رښتينتوب او عدالت سره سم دا پوښتنه مطرح کيږي :

آيا د خبر راوړونکي حافظه دومره قوي ده چې ده دي خبر په واقعي ډول تر دې دمه ياد ساتلی وي ؟

که حافظه يې هم د اعتماد وړ وي بيا يې په هکله دا پوښتنه مطرح کيږي :

آيا د عدالت او حافظې تر څنګ دونه ذهانت او فهم هم لري چې د واقعې انځور دي يې په صحيح ډول درک کړی وي ؟

که د واقعاتو په درک کولو کې کمزوری وي نو بيا يې خبر نه منل کيږي .

خو که خبر راوړنکي واقعات صحيح درک کولای سوای ، د هغه صحيح انځور يې وړاندي کولای سوای نو بيا يې خبر د منلو وړ ګڼل کيږي .

که چيرې خبر راوړنکی خپله د صحنې شاهد نه وو نو بيا دا پوښتنه مطرح کيږي :

آيا د چارسو د اوازې له مخې خبر بيانوي ؟
که دا سې وي نو بيا يې په درواغو کې هيڅ شک نسته .
که خبر راوړنکي خبر د بل معلوم کس د مشاهداتو څخه بيان کاوه يا هغه هم د بل کس د خولې څخه بيان کاوه نو بيا د هر راوي په هکله پورتنۍ ټولې پوښتنې مطرح کيږي .
خو که څوک د خبر تحقيق نه کوي په پټو سترګو خبر قبلوي او د هغه پر بنسټ فتوا صادروي آن تر دې چې پر مسلمان کس يا مسلماني ډلې د تکفير فرمان صادروي نو نه يوازې داچې په اسلامي ټولنه کې به يې د وتلې فتنه اچونکي او نامتو درواغجن په حيث ځان ټولنې ته معرفي کړی وي ، بلکې د قيامت په ورځ به هم د دې هر څه په هکله پوښتل کيږي ځکه الله جل جلاله فرمايلي دي :

((وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا))
(٣٦ الاسراء)

ژباړه : او په هغه څه پسې مه ځه چې په هکله يې ستا سره علم نه وي ځکه يقينا غوږونه ، سترګې او زړه همدا ټول پوښتل کېدونکي دي .
د خبر د تحقيق د پاره تر ټولو غوره او دقيق لابراتوار د مصطلح الحديث يعني د اصول الحديث فن دی ، د مصطلح الحديث اصول لکه څنګه چې د صحيح او ضعيف حديث د پيژندنې د پاره د دقيق لابراتوار په منزله کار ورکوي دغه ډول د دې فن د اصولو په رڼا کې که هر خبر تحليل او تر څېړنې لاندې ونيول سي نو ښتنې خبر به د درواغو څخه په وپيژندل سي.
د مصطلح الحديث د فن يو ښکلی کتاب په پښتو ژبه په نامه د (معرفة الحديث في مصطلح الحديث) يعني د حديث پيژندنې کتاب د بنده لخوا

هم تصنيف سوی دی د همدې کتاب څخه هم د خبر د تحقيق د پاره پوره ګټه اخيستل کېدلای سي.

د تکفير خلورم لامل

د يو کس له کبله د هغه ټلواله محکومول

دا په اسلام کي يو منل سوی اصل او ښکاره الهي حکم دی چي يو کس د بل د غلطي عقيدې او بد عمل له کبله په سزا نه محکوم کيږي، ځکه چي الله جل جلاله فرمايلي دي: ((وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى)) (١٦٤ الانعام)

ژباړه: هيڅ يو بار وړونکی د بل د ګناه پېټی نه وړي.

آزر د عقيدې او عمل له مخي مشرک او کافر وو خو زوی يې د موحدينو امام ابراهيم علي نبينا و عليه الصلوة و السلام وو، ابراهيم عليه السلام د خپل پلار آزر په مشرکانه عقيده او کفري عمل پرې او ګرم نه بلل کيږي ځکه هر کس په خپل عمل محکوم کيږي زوی ته د پلار او پلار ته د زوی د ګناه له کبله سزا نه ورکول کيږي.

دا ربښتنی او ښکاره حقيقت دی چي مسلمانان په مذهبي او فکري لحاظ پر ډلو ټپلو وېشل سوي دي او د هري مذهبي او فکري ډلي کسان خپل منځ کي مشترک فکر او باور لري چي د هغه فکر او عقيدې له کبله ټول يوې ډلي ته منسوب بلل کيږي خو د دې دا معنا نه ده چي همدې ډلي ته منسوب ټول کسان دي يو مخ په يوه فکر او باور وي، د دې ډلي هر کس چي څه وايي يا څه عقيده لري هغه دي د ټولو وينا او عقيده وي.

بلکي په هره ډله کي يو شمېر داسي کسان سته چي هغوی د خپل مذهب او مفکورې په ځينو مسايلو او اړخونو کي داسي افراط يا تفريط کوي چي

هغه يې خپلو همفکرانو او د ټلوالي نورو کسانو ته لا هم د منلو وړ نه وي بلکې د هغوی درېځ د ده څخه بېل وي.

ځکه نو که د يوې فکري او مذهبي ډلې يو کس داسې څه ويلي يا ليکلي وي چې هغه ناسم او د زغم وړ نه وي نو د همدغه کس په وينا او عقيده بايد د دې کس ټوله ټلواله محکومه نسي ځکه کېدلای سي چې دا د دې کس تشدد يا شخصي تفرد وي د ټلوالي نور کسان دي يې لا هم نه ورسره مني.

د دې د پاره چې موضوع نوره هم را ته روښانه سي يو لنډ نظر به فقهي مذهبونو ته واړوو، هر چا ته معلومه ده چې په فقهي مسايلو کې د حنفي مذهب د پيروانو يو درېځ دی، د مالکي مذهب د پيروانو بل درېځ دی او د شافعي مذهب د پيروانو بل درېځ دی، د دې سره چې د هر مذهب پيروان د بل مذهب په وړاندې ځان ته يو درېځ لري بيا هم د فقهي کتابونه پر دې شاهد دي چې د يوه مذهب پيروان په ډېرو مسايلو کې خپل منځي اختلافونه هم لري آن تر دې چې داسې مسايل لا هم سته چې د مذهب پيروان د خپل مذهبي امام څخه په هغه کې اختلاف لري.

تاسو وګورئ ابو حنيفه رحمه الله ته چې څونه اجتهادي مسايل د قرآن، حديثو، اجماع او قياس په وړنا کې صحيح ثابت سوي دي د حنفي مذهب ټول پيروان يې په هغه کې تقليد کوي او پدې باور دي چې د ده اجتهاد د نورو مجتهدينو تر اجتهاد راجح او د اطمنان وړ دی خو بيا هم د ابو حنيفه رحمه الله تعالي يو شمېر داسې اقوال او وينا وي سته چې په هغه عمل نه کېږي بلکې فتوا د ابو يوسف يا محمد رحمهما الله تعالي يا يو بل امام پر قول ورکول کېږي.

د همدغو مسایلو څخه یوه مسئله د باغوانۍ او کښتګرۍ ده مګکه او باغ د فیصدی له مخي لکه دریمه یا څلورمه په باغوانۍ او کښتګرۍ ورکول د ابوحنیفه رحمه الله تعالي د اجتهاد له مخي جواز نلري او د دلایلو څخه یې یو هم د رافع بن خدیج رضي الله عنه ځیني هغه روایتونه دي چې رسول الله ﷺ مګکه او باغ په سلني د باغوانۍ او کښتګرۍ په ډول ورکول منع کړي دي خو ابویوسف او محمد رحمهما الله بیا د یو شمېر نورو دلایلو پر بنسټ په سلنی د باغوانۍ او کښتګرۍ معامله جایز ګڼي او فتوا هم د ملګرو پر قول ده او په عمل کي هم وینو چې خلک په هره سیمه کي دا کار جایز ګڼي ځکه نو مځکي او باغونه په باغواني او کښتګري ورکوي .

د دې نتیجه دا سوه چې د باغوانۍ او کښتګرۍ په هکله چې د ابوحنیفه رحمه الله تعالي څه باور دی ابویوسف او محمد او د حنفي مذهب ټول هغه پیروان چې هغوی د ملګرو پر قول فتوا ورکوي د ابوحنیفه رحمه الله تعالي د اجتهادي رایې موافق نه دي بلکې هغوی پدې باور دي چې په سلني باغواني او کښتګرۍ ورکول جایز کار دی .

دا وو د تکفیر څلورم لامل چې کله ځیني کسان د یوې ډلې د یو کس د وینا یا عقیدې له کبله پر ټوله ډله د کفر حکم کوي او د همدغې ډلې سره تړلي ټول کسان کافران بولي ، دا یوه لویه اشتباه ده بلکې ډېر لوی جرم او جرئت دی ځکه داسي نه ده چې د یوې ډلې ټول کسان دي په هر څه کي په یوه فکر او عقیده وي .

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا:
www.taleemulislam-radio.com

د تکفير پنځم لامل

عناد او دښمني

د تکفير پنځم لامل عناد او دښمني ده ، کله څوک پر داسي کس يا ډلي د کفر حکم کوي چي هغوی د ښې عقيدي او صالح عمل څښتنان وي او هيڅکله يې داسي وينا او عمل کړی نه وي چي په کافرسي خو يو کس د عناد او دښمنۍ له کبله پر هغه لومړی تهمت او تور لګوي او د داسي وينا او عقيدې نسبت ورته کوي چي د هغه پر اساس دی وکولای سي تکفير ته يې لاره هواره کړي څو پر هغه د کفر حکم وکړي .

د جنت او دوزخ خالق او څښتن الله جل جلاله دی کوم کسان چي د ايمان څښتنان او صالح عملونه کوي الله جل جلاله په بې شمېره آيتونو کي هغوی ته د جنت وعدې ورکړي دي او کوم کسان چي کفر او شرک کوي د الله وحدانيت د الله د رسولانو رسالت او د اسلام د دين ضروري عقايد نه مني هغوی ته الله جل جلاله په جهنم کي د تل پاته کېدلو ګواښونه ورکړي دي .

نو کوم کسان چي د عناد او دښمنۍ له کبله پر مؤمن بنده د کفر حکم کوي هغوی بايد پدې پوه سي چي الله جل جلاله د انسانانو په شان نه دی چي دوی يې په افتراء او درواغو تېر باسي او د کفر په فتوا مؤمن د جنت څخه په محروم کړي بلکي د معاند د کفر د فتوا لعنت خپله د ده پر سر لګيږي .

رسول الله ﷺ فرمايلي دي :

إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا (بخاری)

ژباړه : څه مهال چي يو سړی خپل مسلمان ورور ته ووايي : اې کافره ! په دوی کي يو په کافر توب ستنيږي . يعني که هغه کافر نه وو نو د کفر لعنتي لقب ده ته راجع کيږي او د دې ناوړي وينا سزا ده ته ورکول کيږي .

ډېر ځله کېدلای سي چې مسلمان دي د بل مسلمان سره عناد او دښمني ولري خو عناد او دښمني يې بايد دونه بې انصافه نکړي چې خپل مسلمان ورور کافر وګڼي ، مؤمن بنده بايد د دښمنانو سره لا هم په هره پرېکړه او معامله کي عادل واوسي ځکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (٨ المائدة)

ژباړه : اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی ! تاسو د الله د حقونو په ادا ينه کي تل ولاړ او هم د عدالت شاهدان واوسئ او د يو قوم سره دښمني او بغض مو بې عدالتي ته ونه هڅوي ، عدالت کوئ ، عدالت تقوا ته (تر ظلم) نژدې عمل دی او د الله د عذابونو څخه ځانونه وژغورئ ، ځکه يقينا الله په هغه څه چې تاسو يې کوی خبر دی .

کوم کسان چې د يو شخص يا يوې ډلې سره دښمني لري په زړه کي کرکه ورڅخه کوي او بيا په څه چې يې زړه سېږي هغسي بد پر وايي ، تورونه پر لګوي ، آن تر دې چې ځينې لا د هغه د تکفير جرئت هم کوي د اسلام څخه يې وتلی او کافر ګڼي هغوی بايد په پورتني آيت کي غور او تدبر وکړي ، د انصاف او عدالت لاره اختياره کړي .

د مخکښې بحث لنډيز

د تکفير د مخکښو پنځو لاملونو لنډيز پدې ډول بيانولای سو چې يو کس چې پر يو شخص يا مذهبي او فکري ډلې د کفر فتوا صادروي او هغوی د اسلام څخه باسي نو فتوا به يې هغه مهال د مخکښو دلايلو په رڼا کي پر

ځای ګډل کیږي چې فتوا ورکونکی د لاندې صفاتو څښتن او هم یې راتلونکي شرایط مراعات کړي وي.

لومړی: په فتوا ورکولو کې به یې عدالت مراعات کړی وي یعنې د تکفیر حکم به یې په پوره انصاف د شرعي څرګندو دلایلو په تقاضا کړی وي.

که څوک یو کس یا یوه ډله د هغوی سره د عناد او دښمنۍ له کبله په کفر محکوموي او د فتوا د پاره بېله افتراء او تورونو څخه بل کوم دلیل نلري نو بیا یې فتوا د ظلم، جهالت او په مسلمانانو کې د درز او فتنې اچولو ښکاره دلیل دی.

دوهم: که څوک یوه مذهبي او فکري ډله په کفر محکوموي نو هغه کفري وینا، عمل یا عقیده چې له کبله یې پر ټولې ډلې د کفر حکم کوي هغه به و دې ډلې ته منسوب د ټولو کسانو مشترکه او عامه وینا، عمل او عقیده وي.

که څوک د یوې ډلې د یو کس په کفري وینا، کفري عمل او کفري عقیده و دې ډلې ته منسوب ټول وګڼي په کفر محکوموي نو دا هم د ظلم پر بکړه او د اسلامي اصولو خلاف فتوا ده ځکه د زوی په کفر پلار او د پلار په کفر زوی لا هم نه کافر کیږي.

دریم: که څوک یو کس یا مذهبي او فکري ډله د هغوی د داسې وینا، عمل او عقیدې له کبله کافران بولي چې که هغوی واقعاً هغسې وینا، عمل او عقیده ولري، نو په کافران کیږي نو فتوا به یې هغه مهال سمه او پر ځای بلل کیږي، چې د هغوی دا ناوړه عمل او عقیده د داسې رښتني، عادل راوي او خبر په اساس ثابته سوې وي، چې هغه په شریعت کې د منلو وړ وي.

که څوک د خبر تحقیق نه کوي، یوازې د چارسو د اوازو او درواغجنانو او معاندینو د تورونو پر بنسټ یو کس او ډلې ته د کفري وینا، د کفري عمل او

د کفري عقیدې نسبت کوي او بیا یې د هغه له کبله کافر بولي نو دا هم جاهلانه فتوا ده یا په قصدي ډول د مسلمانانو ترمنځ د بې اعتمادۍ، درز او فتنې اچولو شیطاني دسیسه ده.

څلورم: که څوک د یو کس د وینا څخه داسي څه وفهموي چې له کبله یې ویونکی کافر ګڼل کېدلای سي نو د تکفیر حکم به یې هغه مهال پر ځای بلل کیږي چې د ویونکي هم هغه مراد او مقصد وي.

که ویونکي وینا د صحیح مراد په غرض کړې وي او د ژبې د استعمال او قانون له مخې یې هم مراد منل کېدلای سوای خو اوریدونکی یې وینا د هغه د مراد خلاف داسي تفسیر او توجیه کوله چې د اسلام څخه یې په وباسي دا ډول فتوا هم د ایماني ورور ولي خلاف د ظلم فتوا ده، ځکه مسلمان تل هڅه کوي چې کافران لا هم ایمان ته دعوت کړي دا چې یو کس په خپل فاسد فهم او یا غلطي توجیه مخلص مؤمن بې ایمان او کافر ګڼي نو دا هم د منلو وړ فتوا نه ده.

پنځم: که څوک یو کس یا یوه ډله د هغوی د وینا، عمل یا عقیدې له کبله کافران یا مشرکان ګڼي نو د کوم دلیل یعني قرآني آیت او نبوي حدیث په اساس چې هغوی کافران ګڼي دا به هلته د منلو وړ وي چې د فتوا صادرونکی د دونه علمیت او پوهې څښتن وي چې د نورو آیتونو او حدیثونو په رڼا کې، د اهل سنت او جماعت د منل سوو اصولو سره سم یې د آیت او حدیث مراد فهمولی او هم یې پر صحیح ځای تطبیق کړی وي.

که څوک د داسي آیت یا نبوي حدیث په اساس مسلمان یا مسلمانه ډله کافران ګڼي چې د هغه مصداق کافران وي یعني د کافرانو په هکله نازل سوی آیت یا وارد سوی حدیث وي یا په آیت او حدیث کې د یاد سوي کفر او

شرک څخه هغه کفر او شرک مراد نه وي چې له کبله يې څوک د ايمان څخه په وځي او په جهنم کي تلپاتې سزا ورکول کيږي بلکي تر حقيقي کفر او شرک کښته کفر او شرک مراد وي لکه څه ډول چې امام بخاري رحمه الله يې په (بَاب كُفْرَانِ الْعَشِيرِ وَكُفْرٍ دُونَ كُفْرٍ) کي مثالونه ياد کړي دي يعني د کفر او شرک څخه ګناه، ناشکري يا رياء کاري مراد وي نو د دا ډول آيتونو او حديثونو په اساس که پر مسلمان يا مسلماني ډلي څوک د تکفير فرمان صادروي او هغوی د اسلام څخه وتلي کافران او مشرکان ګڼي نو دا هم ناسمه او ظالمانه فتوا ده، ډېر ځله کيدلای سي چې دی خپله د خپلي فتوا او غلط فهم له مخي په بل ورته عمل د اسلام څخه وتلی وبلل سي.

د تکفیر خطرناکه پایله

په هره اسلامي ټولنه کي بايد د تکفير مخه ونيول سي ځکه الله دي نکړي که د تکفير آفت وبايي شکل اختيار کړي او د عصبيت او ډل پرستۍ توري پردې د هر عالم او هري مذهبي او فکري ډلي پرستر ګو وغوړېږي نو بيا به د ډندو د لکړو په شان يو پر بل په پټو سترګو د تور او تهمت واري کوي او د عناد او حسد خروبښ به يې اخير دې ته هڅوي چې د تکفير د غداری په توره د خپل مؤمن ورور سر غوڅ کړي.

د تکفير فتنه که وبايي شکل اختيار کړي نو بيا هيڅ مذهبي او فکري ډله پاته کېدلای نسي چې هغوی دي د مقابلي ډلي لخوا په کفر محکوم نسي په نتيجه کي به هره مذهبي او فکري ډله که څه هم په خپل آند ځانونه مسلمانان بولي او واقعاً هم مسلمانان وي خو د دوی د تشدد په غبرګون کي چې کومه مقابل لوري ډله ده د هغوی په آند به د اسلام څخه وتلي کافران وي.

د تکفير فتواوي که پر هر منبر، په هره مدرسه، خانقاه او غونډه کي صادرېږي نو په لومړي قدم کي به د سيمي ټول علماء، مبلغين، عابدان او د دين سره زياته مينه لرونکي کسان څوک د يوه او څوک د بل په فتوا کافران ګڼل کيږي.

همدا علماء ، مبلغين ، عابدان او د دين سره مينه لرونکي مؤمنان دي چې په يوه او بل شکل د اسلام سپيڅلی دين خپروي ، د کفارو د يرغل په وړاندي يې ساتنه کوي او د اسلام په خدمت کي نه ستړېدونکي هلي ځلي کوي که د تکفير جګړه ګرمه سي نو غشي به يې تر هر چا مخکي د علماوو او پر دين مينو مؤمنانو پر سينه لګيږي .

د سيمي علماء ، مبلغين ، عابدان او ديندارہ کسان که کافران وبلل سي نو بيا په سيمه کي څوک مسلمان او مؤمن بلل کيږي ؟

د چا پر خبره خلک باور وکړي ؟ د چا څخه خلک دين زده کړي ؟

څوک د دين خادم او ساتونکی وبلل سي ؟

د هري سيمي او ټولني مسلمانان مو پر دوو طبقو وېشلای سو يوه طبقه يې عام عادي مسلمانان دي چې په ديانت او ديني چارو کي بې فکره او بې تعلقه دي او بله طبقه يې متدين او د دين په چارو کي فکرجن کسان دي ، دوهمه طبقه په عام ډول علماء ، مبلغين ، عابدان او په ديني چارو کي زيار کښونکي کسان تشکيلوي .

که په سيمه کي د اسلامي ټولني ټول علماء ، مبلغين ، عابدان او د دين په چارو کي فکرجن کسان (معاذ الله) د اسلام څخه خارج وبلل سي ، البته څوک د يوه په فتوا او څوک د بل په فتوا ، نو د سيمي عادي مسلمانان خو بيخي په اسلام کي پاتي کېدلای نسي ځکه هغوی ټول د علماوو ، مبلغينو ، عابدانو پر پله پل ږدي او د هغوی عقيده خپله وي .

د مخکنيو بحثونو پايله

د مخکنيو کړښو په لوستلو سره دې نتيجې ته رسيږو چې پر يو کس او يا پر يوې مذهبې او فکري ډلې د کفر حکم کول او هغوی د اسلام د مقدس دين څخه ايستل د قرآن ، حديثو او شرعي اصولو له مخې دونه ساده کار نه دی، چې هر کس وغواړي د هر چا په حق کې، چې يې زړه وي د کفر فتوا صادره کړي .

د يو کس يا طايفې په هکله د تکفير فتوا ورکول دونه لويه قضيه ده چې د ډېرو ستروامامانو څخه چې په زرګونو زرګونو اجتهادي مسايل يې د قرآن او حديثو څخه را ايستلي دي خو د دې ستر علميت سره سره د هغوی څخه د يو شخص يا مذهبي او فکري ډلې په هکله د کفر فتوا نه ليدل کيږي ، ځکه دا د بندګانو وظيفه نه ده او نه يو بنده دونه واک لري چې د جنت په دروازه کې و دريږي او وايي فلانی مسلمان دی جنت ته يې پرېږدم او د فلاني ايمان ما ته د منلو وړ نه دی جنت ته يې نه پرېږدم .

کوم کسان چې ځانونه د جنت دروازه وانان ګڼي د هغوی په ګمان د هغوی د خوښۍ پرته څوک جنت ته ورڅخه ننوتلای نسي هغوی دي د رسول الله صلي الله عليه و سلم د دې حديث څخه عبرت واخلي :

كَانَ رَجُلَانِ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ مُتَوَاخِيَيْنِ فَكَانَ أَحَدُهُمَا يُذْنِبُ وَالْآخَرُ مُجْتَهِدٌ فِي الْعِبَادَةِ فَكَانَ لَا يَزَالُ الْمُجْتَهِدُ يَرَى الْآخَرَ عَلَى الذَّنْبِ فَيَقُولُ أَقْصِرْ فَوَجَدَهُ يَوْمًا عَلَى ذَنْبٍ فَقَالَ لَهُ أَقْصِرْ فَقَالَ خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبًا فَقَالَ وَاللَّهِ لَا يَغْفِرُ اللَّهُ لَكَ أَوْ لَا يُدْخِلُكَ اللَّهُ الْجَنَّةَ فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا فَاجْتَمَعَا عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ فَقَالَ لِهَذَا الْمُجْتَهِدِ أَكُنْتَ بِي عَالِمًا أَوْ كُنْتَ عَلَى مَا فِي يَدِي قَادِرًا وَقَالَ لِلْمُذْنِبِ اذْهَبْ فَادْخُلْ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي وَقَالَ لِلْآخَرِ اذْهَبُوا بِهِ إِلَى النَّارِ (ابوداود)

ژباړه : دوو کسانو په بنواسرائيلو کې خپل منځې ورورګلوی لرل ، يوه ګناهونه کول هغه بل په عبادت کې محنت ګاله ، په عبادت کې زيار کښ چې به هر مهال هغه

بل پر ګناه ولیده هغه ته يې ويل : د ګناه څخه لاس واخله ، يوه ورځ يې هغه پر غټه ګناه ولیدی ورته وې ويل : د ګناه څخه لاس واخله ، هغه ورته وويل : ما او خپل رب سره پرېږده ، ته خو به پر ما څارونکی نه يې رالیږل سوی ؟ عابد ورته وويل : زما دي قسم په الله وي ، الله تا ته بخښنه نه کوي او يا يې دا ورته وويل : الله تا جنت ته نه داخلوي ، الله دواړه وفات کړل او بيا د رب العالمين په حضور کې يو ځای سول ، الله زيار کښ عابد ته وويل : آيا ته په ما خبروې چې زه بخښنه نه ورته کوم ؟ يا يې داسي ورته وويل :

آيا ته پر هغه څه چې زما په لاس کې دي واک لرې ؟ ګنهکار ته يې وويل : ولاړ سه زما په رحمت جنت ته ننوځه ، او د عابد په هکله يې ملايکو ته وويل : دی د جهنم اور ته بوځئ .

د رسالې پای

اللهم انا نسئلک الجنة و نعوذبک من النار اللهم يا مقلب القلوب ثبت قلوبنا علي دينک اللهم ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم و صلي الله و سلم علي نبينا محمد و علي آله و صحبه اجمعين و اخر دعونا ان الحمد لله رب العالمين .

د طلايي لړۍ د لومړۍ رسالې تاليف (د تکفير لاملونه) بحمد الله و توفيقه د سه شنبې په ورځ د ۱۳۹۱ کال د جوزا پر ۱۶ مه نيټه چې د ۱۴۳۳ کال د رجب د مياشتي د ۱۶ مي نېټې سره سمون خوري پای ته ورسيد .

رفیق خوشحال شرکت (لمیټډ)

SUPER CRISP

نړیوال شهرت ، نه خوند او نه کیفیت

د ډول، ډول چپس تولیدونکي نړیوالي (Super Crisp) کمپنۍ د افغانستان لپاره خصوصي ایجنسي رفیق خوشحال شرکت ، تاسو کولای سی چې د (Super Crisp) د چپسو هر ډول تولیدات د همدې شرکت څخه په ډېر بیه ترلاسه کړی.

کندهار : ۰۷۰۸۷۶۵۴۰۹ کابل : ۰۷۰۸۸۶۴۲۰۴

ادرس: حاجي کبیر مارکېټ دوهم منزل دوکان نمبر: ۱۱۳ کندهار افغانستان
جاده میوند چندول مارکېټ دوکان نمبر: ۸ کابل افغانستان

تعلیم الاسلام راډیو د رفیق خوشحال شرکت څخه منه کوي چې د طلایي لړۍ د لومړۍ رسالې د چاپ لګښت ته یې ټټر وهلی ترڅو په ډېرا ډول ووپښل سي.

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا پر لیکه کیږي:
www.taleemulislam-radio.com